# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ مجله

شپاړسم کال، ۱۸۰ مه گڼه د ۱۴۴۳ کال د ذوالحجې (۱۴۰۱ چنگاښ) میاشت



## بخاطر رشد و توسعه اقتصاد کشور باید از روش های جدید تولید که باعث افزایش باز دهی می شود، استفاده بعمل آید.

# د افغانستان بانک خبرتیا!

**درنو هېوادوالو:**

**د مخکنیو خبرتیاوو په تعقیب یو ځل بیا خبر ورکول کېږي چې د اوسنیو شرایطو په پام کې نیولو ســره یوازې د افغانۍ هغه بانکنوټونه چې د لاندې ځانګړتیاوو لرونکي وي، د مندرسو بانکنوټونو په ډله کې شمېرل کېږي:**

**۱– د افغانۍ هغه بانکنوټونه چې ظاهري بڼه یې په بشپړه توګه بدله شوې وي.**

**۲– د افغانۍ هغه بانکنوټونه چې د نا اټکل شویو پېښو له امله یې یوه برخه تخریب شوې او یا یې ظاهري بڼه بدله شوې وي، خو اصلیت یې د پېژندلو وړ وي او په بازارونو کې د چلښت وړ نه وي او د واټرمارک، ظاهري امنیتي نښو او دواړو لاسلیکونو په ګډون یې له شپېته سلنې زیاته برخه موجوده وي.**

## د مندرسو بانکنوټونو بېلګې

د افغانۍ هغه بانکنوټونه چې ظاهري بڼه یې په بشپړه توګه بدله شوې وي.







د افغانۍ هغه بانکنوټونه چې د نا اټکل شویو پېښو له امله یې یوه برخه تخریب شوې







**د افغانۍ نور بانکنوټونه چې پورته ذکر شوې ځانګړنې ونلري په روغو بانکنوټونو کې حسابېږي او په پولي راکړو ورکړو کې د کارونې وړ دي.**



| د ګڼې لړلیک / مطالب مجله | مخ |
|---|---|
| د افغانستان بانک او مسفا اداري تر منځ د همکاريو په اړه د غونډې جوړېدل | ۲ |
| د عامه ساتنې ملي تصدۍ سره د امنيتي همکاريو د هوکړه ليک لاسليک | ۴ |
| د افغانستان بانک اظهارات اخیر نماینده ویژه امریکا در امور افغانستان را مبنی بر... | ۶ |
| تدویر جلسه با نمایندگان اداره محترم ملی احصائیه معلومات | ۵ |
| د افغانستان بانک په ختيځ زون کې د افغانۍ د دودولو په اړه د عامه پوهاوي ... | ۶ |
| د افغانستان بانک د مجلې د شپاړسمې کليزې په مناسبت | ۷ |
| اهداف و منافع افغانستان از مشارکت در پروژه تاپی (TAPI) | ۱۰ |
| ډالرايزيشن ( Dollarization )، ګټې او زيانونه | ۱۳ |
| ارز های دیجیتالی پایدار، مزایا و نواقص آن | ۱۵ |
| اقتصادي خبرونه | ۲۰ |
| د افغانستان د هوايي د هلېز فعالېدل صادراتي وده رامنځته کوي | ۲۲ |
| د افغانستان د مسو کانونه د دې هېواد د بنې راتلونکې لپاره هيلې زياتوي | ۲۴ |
| عوامل رشد اقتصادی افغانستان کدام ها اند؟ | ۲۶ |
| په اقتصادي وده کې د سپما ارزښت | ۲۸ |
| د پيسو نړيوال صندوق ( IMF ) پېژندنه | ۳۰ |


## بانک کاري ډله

د امتياز خاوند: د افغانستان بانک

کتنپلاوی: صديق الله خالد، جواد سداد، مفتي عبدالله آخندزاده او خواجه عصمت الله ځلاند

سرليکوال: شفيق الله بارز

مسئول مدير: حسيب الله نوري

خبريال: عبدالحفيظ شاهين

ډيزاين: خالد احمد فيضي

فوټوژورناليست: زيرک مليا

د وېش مسؤل: نصرت الله احمدزی

د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

پته: د افغانستان بانک

ټليفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برښناليک: magazine@dab.gov.af

ويب پاڼه: www.dab.gov.af

د ثبت ګڼه: ۶۵۸



د مضمونونو او مقالو مسئوليت د ليکوالانو پر غاړه دی. د مجلې د مقالو او انځورونو څخه ګټه اخيستنه د سرچينې په ذکر کولو سره جواز لري.

مسئولیت مضامین و مقالات به نویسنده‌گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.


Da Afghanistan Bank-Youtube   twitter.com/AFGCentralbank   www.facebook.com/AFGCentralbank

# د افغانستان بانک او مسفا ادارې تر منځ د همکاریو په اړه د غونډې جوړېدل





۱۴۴۳ذوالقعده ۲۳ مه – د افغانستان بانک او د افغانستان لپاره د کوچنیو مالي خدمتونو د پانګونو د ملاتړ مرکز (مسفا) تر منځ د همکاریو ګډه غونډه جوړه شوه چې په یاده غونډه کې خلکو ته د پورونو پر ورکړې، مالي اسانتیاوو او د یو شمېر نورو اړوندو موضوعګانو په اړه خبرې اترې وشوې.

د افغانستان بانک سرپرست رئیس ښاغلي عبدالقاهر (حاجي ادریس) په یاده غونډه کې د دې ادارې له استازو سره د قوانینو او مقرراتو په رڼا کې د هر ډول همکارۍ ژمنه وکړه او یادونه یې وکړه چې د افغانستان بانک ژمن دی چې د درنو هیوادوالو لپاره په مالي او بانکي برخو کې اړینې اسانتیاوې رامنځته کړي.

باید وویل شي چې د مسفا ادارې استازو خلکو ته د پورونو د ورکړې او نورو مالي اسانتیاوو د رامنځته کولو په برخه کې د افغانستان بانک د همکارۍ غوښتنه وکړه.





# د عامه ساتنې ملي تصدۍ سره د امنيتي همکاريو د هوکړه ليک لاسليک

**١۴۴٣ذوالحجه ۵ مه** — د افغانستان بانک او د عامه ساتنې د ملي تصدۍ تر منځ دافغانستان بانک د نمايندګيو د امنيت د ساتنې هوکړه ليک لاسليک شو.

هغه غونډه کې چې په همدې مناسبت د افغانستان بانک د عالي شورا په تالار کې جوړه شوې وه د افغانستان بانک لومړي مرستيال ښاغلي نور احمد آغا د دې هوکړه ليک لاسليک د ارزښت وړ ياد کړ او د افغانستان بانک او عامه ساتنې د ملي تصدۍ تر منځ يې د لا زياتو امنيتي همکاريو پر رامنځته کولو ټينګار وکړ.

د يادونې وړ ده چې د عامه ساتنې ملي تصدي په هيواد کې د بېلابېلو برخو د امنيتي مسئوليت ترڅنګ د بانکونو د ساتنې مسئوليت هم پر غاړه لري.

بايد وويل شي چې د افغانستان بانک او عامه ساتنې د ملي تصدۍ تر منځ د هوکړه ليک د لاسليک پر مهال د دې بانک د بېلابېلو آمريتونو او د يادې تصدۍ استازو ګډون درلود.



# د افغانستان بانک اظهارات اخیر نماینده ویژه امریکا در امور افغانستان را مبنی بر حل مشکلات سکتور بانکی به دیده قدر می نگرد

تام وست نماینده ویژه ایالات متحده امریکا برای افغانستان اخیراً طی دیداری با شماری از تجار کشور در امارات متحده عربی گفته است که چالش های موجود سد راه نظام بانکی افغانستان را به زودی حل می کنیم.

د افغانستان بانک ضمن قدردانی از این اقدام نیک و حسن نظر آقای وست مبنی بر رفع محدودیت های بیشتر و حل مشکلات سد راه سکتور بانکی افغانستان، از جامعه جهانی بخصوص ایالات متحده امریکا تقاضا دارد تا در سایر عرصه ها نیز با افغانستان داخل تعامل سازنده شده تا مراوددات موثر یک بار دیگر بین افغانستان و سایر کشور ها از سر گرفته شود.

د افغانستان بانک منحیث ناظر و قانون گذار سکتور بانکی یک بار دیگر به مردم اطمینان میدهد که تلاش های خود را در زمینه رفع چالش ها فرا راه سکتور بانکی کشور از هر طریق ممکن با شرکای داخلی و خارجی معطوف داشته و به نوبه خویش در سمت و سو دادن سکتور بانکی و نقش مفید آن در رشد و توسعه اقتصادی کشور تعهد عمل دارد.





# تدویر جلسه با نمایندگان اداره محترم ملی احصائیه معلومات

۱۷ذوالحجه ۱۴۴۳- جلسه ای به ریاست محترم لطف الحق نور پسرلی مشاور ارشد اقتصادی د افغانستان بانک با نمایندگان اداره محترم ملی احصائیه معلومات تدویر گردید.

در این جلسه در زمینه رشد و انکشاف عمومی احصائیه های توحید شده اقتصادی و اجتماعی در سراسر کشور و انسجام پلانها، جمع آوری، توحید، تحلیل و نشر معلومات احصائیوی در موارد مربوط به امور تجارتی، صنعتی، مالی، اجتماعی، اقتصادی، محیطی و وضعیت فعالیت های عموم مردم صحبت شد.

محترم لطف الحق نور پسرلی مشاور ارشد اقتصادی د افغانستان بانک یادآوری نمود که هیئت رهبری د افغانستان بانک متعهد است که در پرتو قوانین و مقررات به هموطنان عزیز در بخشهای مختلف خدمات خوبتر و بهتر را مهیا سازد و با ادارات ذیربط همکاری داشته باشد.









# د افغانستان بانک په ختیځ زون کې د افغانۍ د دودولو په اړه د عامه پوهاوي ناسته ترسره کړه

۱۴۴۴ ذوالقعده ۳۰ مه - د افغانستان بانک د ختیځې حوزې ساحوي مرستیال الحاج احمدزي توحیدیار او د زون اقتصاد پوه تاج محمد تمکین د ننګرهار ښاروال مولوي نعمت الله اخوند سره په ځینو سرحدي ولسوالیوکې (غني خېل، مهمند دره او لعل پور) د افغانیو د بشپړ دودولو لپاره د ذهنیت جوړونې په اړه غونډه تر سره کړه، د ختیځې حوزې ساحوي مرستیال ښاغلي احمدزي په دې اړه وویل چې الحمدلله د ننګرهار ولایت په زیاتو ولسوالیو کې افغانۍ دود دي، خو په څو ولسوالیو کې لا هم ځای ځای بهرني اسعار کارول کېږي نوموړي د ننګرهار له ښاروال څخه وغوښتل، څو د ولسوالیو ښاروالیو ته لارښوونه وکړي چې خلک دي په راکړه ورکړه کې افغانۍ وکاروي ځکه چې افغانۍ زموږ ملي هویت دی. په دې ناسته کې د ننګرهار ولایت ښاروال ژمنه وکړه چې په دې اړه به جدي اقدامات ترسره کړي، څو په یادو ولسوالیو کې د افغانیو دودولو ته زمینه برابره شي او ورسره به د پردیو اسعارو کارولو ته د پای ټکی کېښودل شي.

همدا ډول د افغانستان بانک د ختیځې حوزې د ساحوي دفتر مرستیال الحاج احمدزي توحیدیار د ننګرهار ولایت د کسبګرو او هټیوالو له ټولنې او د ارشاد، حج او اوقافو ریاست سره په جلاجلا توګه د افغانیو د دودولو لپاره د ذهنیت جوړولو په اړه ناستې تر سره کړې په یادو ناستو کې د اصنافو محترم رئیس عزیز الرحمن عرب او د ارشاد، حج او اوقافو محترم رئیس مولوي عبدالواسع ژمنه وکړه چې د افغانیو د دودولو په اړه به په خپل وار سره ذهنیت جوړونه کوي او اړوند ادارو او اشخاصو ته به سپارښتنه وکړي څو د ولسوالیو په مسئولینو او هټیوالو تاکید وکړي چې د افغانیو دودولو ته د خلکو ذهنیت جوړونې په برخه کې لازم اقدامات تر سره کړي.



# د افغانستان بانک د مجلې د شپاړسمې کلیزې په مناسبت

د افغانستان بانک د روڼتیا او حساب ورکونې اصل ته ژمن دی له همدې امله د پولي سیاست د ښه تطبیق او بانکي سکتور د کړنو په اړه د بېلابېلو ابزارونو له لارې د خلکو او ذینفع شریکانو د پوهاوي لپاره اطلاعات، شمېرې او ارقام خپروي چې مجله هم د همدې ابزارونو له ډلې ده.

د افغانستان بانک په مجله کې د افغانستان بانک د کنفرانسونو، ورکشاپونو، سیمینارونو، رسمي غونډو او نورو عملیاتي کړنو راپورونه او د هیواد او نړۍ د مالي، بانکي او اقتصادي وضعیت په اړه څېړنیزې او تحلیلي مقالې خپرېږي.

پدې مجله کې د مخاطبانو په ټاکلو سره د ساده او روان لیکلو ادبي اصول په پام کې نیول کېږي او د ژورنالیزم اصولو ( دقت، سرعت، انصاف او بې پرېتوب) ته يکې پوره پاملرنه کېږي، ترڅولدې لارې په ښه توګه په کتبي ډول د بانک د اطلاع رسونې ماموریت تر سره شي.

دا مجله اوس په ټولنه کې په ځانګړې توګه په اکاډمیکو مرکزونو، سکتوري وزارتونو، زیات شمېر دولتي او غیر دولتي ادارو کې د غوره شهرت لرونکې ده چې ډېر مینه وال او لوستونکي لري.

د یادونې وړ ده چې پوره شپاړس کاله وشول چې دا مجله په دوامداره توګه د افغانستان بانک د نشراتو مدیریت لخوا چاپېږي او د اکاډمیکې ټولنې سربېره د افغانستان بانک له ذینفع شریکانو، دولتي او غیر دولتي ادارو سره شریکېږي.

باید یادونه وکړو چې د افغانستان بانک

»

د ریاست د دفتر د اړیکو مرستیالیت او د خپرونو مدیریت د افغانستان بانک د مجلې د کتنپلاوي له ډلې او ټولو قلمي همکارانو څخه مننه کوي، چې د مجلې په دې شپاړس کلن مزل کې یې زمونږ ملګرتیا کړېده او د مجلې د مضمونونو په غني کولو کې یې را سره مرسته کړې ده، کور یې ودان او قلم یې روان.

پدې برخه کې د افغانستان بانک د مجلې د شپاړسمې کلیزې په مناسبت د اطلاعاتو او فرهنګ او مالیې د محترمو وزارتونو او د پوهنتون د استادانو نظرونه په لنډ ډول را غونډ شوي دي:

**د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د فرهنګ او هنر د مرستیال وزیر مولوي عتیق الله عزیزي پیغام!**



د افغانستان بانک مجله د دې بانک د سیاستونو څرګندونکې ده چې له علمي او څېړنیزو مطلبونو څخه برخمنه ده او د ډېرې مودې راهیسې پکې د بانکدارۍ سکتور لاسته راوړنې خپرېږي او خلکو ته رسول کېږي. د افغانستان بانک مجله په هیواد کې د هغو وتلو خپرونو څخه شمېرل کېږي چې د رسنولۍ له ټولو معیارونو او مطبوعاتي اصولو سره بشپړ جوړښت لري.

د افغانستان بانک مجله چې هره میاشت چاپېږي لوست یې ډېر ګټور دی او دا مجله د اقتصادي سکتور د کارکوونکو لپاره خورا اغېزناکه ده، ځکه د دې مجلې په لوستلو سره دوی د هیواد د مالي او بانکي سکتور له فعالیتونو خبرېږي. همدارنګه د پوهنتونونو محصلین او د مسلکي ښوونځیو زده کوونکي باید دا مجله ولولي، ځکه چې د دې مجلې مطلبونه او مضمونونه د هغوی مسلکي پوهه زیاتوي.

په آخر کې د افغانستان بانک خپرنیزې کاري ډلې او مشرتابه پلاوي ته د افغانستان بانک مجلې د شپاړسمې کلیزې په ویاړ مبارکي وایم او ورته د لازیاتو بریاوو غوښتنه کوم.

**د مالیې وزارت ویاند احمد ولي حقمل پیغام!**



په اقتصادي او معلوماتي برخه کې د افغانستان بانک د مجلې شپاړس کلن مزل دي، د بانک مشرتابه، کارکوونکو او لوستونکو ته مبارک وي! ځوان او تحصیل کړي کهول ته د افغانستان بانک د مجلې د اقتصادي، معلوماتي، تحلیلي او څېړنیزو مضامینو خپرول په خپل ذات کې د یوه پوهنتون په کچه معتبر دي، ځکه چې هره مقاله او مضمون د مسلکي څېړونکو او لیکوالانو له خوا چمتو کېږي.

زموږ هیله دا ده، چې د مجلې را روانې برخې هم د هیواد او د افغانستان بانک د معتبرو لیکوالانو او شنونکو په ګټورو لیکنو او مقالو مزیینې شي، ټولې دولتي ادارې او اکاډمیکې ادارې ترې عظمي

ګټې پورته کړي.

ستاسو د لا بریاوو په هیله!



**پیام فردین عیار استاد پوهنتون کاردان!**

مجله بانک منحیث ارگان نشراتی بانک مرکزی یگانه نشریه معتبر بوده که موضوعات مهم بانکی و مالی را در کشور، منعکس می نماید. بنده به عنوان خواننده این مجله اختصاصی و معتبر ضمن مبارکی ۱۶ همین سالگرد آن به دست اندر کاران و نویسندگان خلاق و مجرب این مجله وزین، متوقع هستم که این مجله وزین اختصاص موضوعات مالی و بانکی همچنان در امر اطلاع رسانی و تنویر سازی، در آسمان مطبوعات کشور، بدرخشد.

باور دارم که مدیریت مؤثر این مجله و انعکاس موثر سیاست های پولی و پالیسی های بانک مرکزی و با در نظر داشت اصل بی طرفی و اداره مؤثر معلومات توسط این نشریه معبتر و علمی در محبوبیت این مجله نزد اکثر مردم و اخصاً جامعه علمی افزوده است
.

در اخیر از دست اندرکاران وزین مجله بانک، متوقع هستم از اینکه این مجله علاقمندان فروان در میان جامعه اکادمیک و محصلین کشور دارد، در انعکاس مقالات اقتصادی از جامعه اکادمیک کشور، توجه نموده تا در غنای هرچه بیشتر این مجله ملی و موثر، افزوده شود



**د جهان پوهنتون د استاد محمد اصغر مومند پیغام!**

د افغانستان بانک د مجلې د خپریدو د شپاړسمې کلیزې په مناسبت د افغانستان بانک کارکوونکو او مسوولینو ته مبارکي وایم. د بانک مجله چې هره میاشت خپریږي او زمونږ پوهنتون ته را استول کیږي دا مجله د محصلینو په منځ کې ځانګړې ارزښت لري. محتویات یې خورا معلوماتي او په زړه پورې دي چې د اقتصاد د برخې د محصلینو لپاره ډیر ګټور دي.

ډیر کله محصلین په خپلو مونوګرافونو، کنفرانسونو او لیکچرونو کې د بانک مجلې له محتوا څخه کار اخلي. همدارنګه د دې مجلې محتوا، راپورونه او څیړنیزې مقالې نه یوازې د محصلینو لپاره معلوماتي دي، بلکې د هغو کسانو لپاره هم اغېزناکې دي چې په اقتصادي برخه کې کار کوي.

زه هیله لرم چې پدې مجلو کې د پوهنتونونو د استادانو مقالو ته هم ځای ورکړل شي، تر څو پدې وسیله د افغانستان بانک په مجله کې د اکاډمیکې ټولنې د غړو لیکنې هم خپرې شي.

# اهداف و منافع افغانستان از مشارکت در پروژه تاپی (TAPI)

شاداب "ضیائی" آفیسر ارشد سیستم گزارشدهی معاملات بین المللی آمریت عمومی سیاست پولی

**خط لوله گاز ترکمنستان، افغانستان، پاکستان و هند (TAPI)** طرح انتقال گاز طبیعی ترکمنستان از مسیر افغانستان به پاکستان و هند است. در سال ۲۰۰۵ و ۲۰۰۸ مطالعات اقتصادی و امکان سنجی پروژه خط انتقال گاز از ترکمنستان از مسیر افغانستان به هند و پاکستان انجام شد، در سال ۲۰۱۰ در عشق آباد ترکمنستان نخستین موافقت نامه موسوم به لوله گاز تاپی میان رهبران چهار کشور به امضا رسید و در سال ۲۰۱۳ بانک انکشاف آسیایی نیز بر جریان مطالعات تخنیکی و اقتصادی آن سهم نظارتی پیدا کرد.در جریان ده سال فراز و فرود این طرح نخستین جلسات گروه رهبری پروژه تاپی با اشتراک چهار کشور و به شمول بانک انکشاف آسیایی روی شرایط تجاری برای میزان فروش و ترانزیت گاز طبیعی پیشرفت‌هایی به دست آمد که یک گام مهم به سوی تأمین بودجه خصوصی و دولتی برای اعمار لولهٔ گاز تاپی به شمار می رفت. از سال ۲۰۱۳ بانک انکشاف آسیایی علاوه بر حضور در رهبری این پروژه، به عنوان مشاور معاملاتی پروژه نیز ایفای نقش کرده و این نقش تا هنوز نیز ادامه دارد.ساخت این خط لوله از ۱۵ دسامبر ۲۰۱۵ از ترکمنستان آغاز شده است، تاپی گاز ترکمنستان را از حوزه "گالکینیش" در جنوب ترکمنستان، که ذخایر آن تا ۱۶ تریلیون متر مکعب برآورد شده، از راه ولایت‌های هرات، هلمند، فراه و قندهار افغانستان به کویته بلوچستان پاکستان و از آنجا به شهر ملتان آن کشور منتقل می کند و بالاخره در منطقه موسوم به فاضیلکا در پنجاب هند به پایان میرسد.

طول این خط لوله، درمجموع ۱۸۱۴ کیلومتر استکه ۲۱۴ کیلومتر آن در خاک ترکمنستان واقع شده،۷۷۴کیلومتر آن از خاک افغانستان »



عبور می کند و ۸۲۶ کیلومتر متباقی آن در خاک پاکستان الی منطقه موسوم به فاضیلکا در پنجاب هند به پایان میرسد.طبق مشخصات تخنیکی پروژه، ۱۲ پمپ فشار در مسیر انتقال این طرح نصب خواهند شد که ۵ پمپ آن به ارزش یک میلیارد دالر آمریکایی در داخل خاک افغانستان قرار می‌گیرد. هزینه ساخت این پروژه بیش از ۱۰ میلیارد دالر برآورد شده است و ظرفیت انتقال سالانه ۳۳ میلیارد مترمکعب گاز را به سه کشور عضو تاپی دارد. همکاران رسمی این پروژه شامل شرکتهای (ترکمن گاز، شرکت افغان گاز، سیستم‌های گازی بین ایالتی پاکستان و گیل هندوستان) و شرکت های جاپانی، چینی و بانک انکشاف آسیایی می‌باشند.هرچند افغانستان از لحاظ منابع انرژی غنی است اما تاکنون نتوانسته است از منابع موجود جهت برطرف کردن نیازمندی کشوراز منابع و مواد سوختی استفاده لازم نماید، مواد سوختی با معیارها و کیفیت گوناگون توسط سکتور خصوصی وارد می‌شوند و گاه یک نوع انحصار را در بازار شکل میدهد. بر بنیاد توافقنامهٔ تاپی، هر کشور مقداری مشخص از این گاز را خریداری میکند. افغانستان در سه دوره زمانی مشخص به اندازه مصرف و حتی مازاد بر مصرف داخلی خویش می تواند از کشور ترکمنستان گاز خریداری نماید.مطابق قرارداد ۳۰ ساله تاپی، افغانستان در ۱۰ سال نخست این پروژه، سالانه ۵۰۰ میلیون متر مکعب، در ۱۰ سال دوم سالانه ۱ میلیارد مترمکعب و در ۱۰ سال سوم ، سالانه ۱،۵ میلیارد متر مکعب گاز از ترکمنستان خریداری میکند.بهره‌مندی از چنین مزایایی می‌تواند به میزان مصرف انرژی استندرد در افغانستان کمک نموده و از آلودگی هوا در شهرهای واقع در مسیر این پروژه به صورت ملموس جلوگیری نماید.

**اهداف و منافع سیاسی افغانستان از مشارکت در پروژه تاپی:**

**پیوند بیشتر امنیت افغانستان با شرکای منطقه‌ای و جهانی:**خط لوله گاز تاپی (TAPI) یکی از پروژه‌های مهم از نگاه اقتصاد، تعاملات سیاسی، همکاری‌های امنیتی و زیر بنایی منطقه‌ای به‌خصوص میان چهار کشور ذی نفع ترکمنستان، افغانستان، هند و پاکستان می‌باشد. گاهی از این خط انتقال گاز به عنوان خط لوله صلح نیز یاد می‌شود. کسب حمایت و پشتیبانی بیشترشرکای منطقه‌ای و جهانی از این خط لوله، امنیت افغانستان را بیشتر با شرکای منطقه‌ای و جهانی مرتبط می کند. همچنین گذر خط گاز تاپی از افغانستان منافع عینی و واقعی چند کشور منطقه‌ای و جهانی را با همدیگر پیوند میدهد و کشورهای همسود مجبور اند به منافع خود توجه نمایند، در این زمینه تأمین امنیت افغانستان نیز فراهم‌تر می گردد.پروژه تاپی منافع کشورها را از تقابل با یکدیگر در افغانستان به سیاست تحمل پذیری تشویق خواهد کرد.

**افزایش جایگاه جغرافیای سیاسی (ژئوپلتیکی) کشور و تقویت روابط با کشورهای عضو تاپی:** درواقع پروژه خط لوله گاز ترکمنستان، افغانستان، پاکستان، هند به افزایش جایگاه جغرافیای سیاسی افغانستان کمک کرده و مناسبات و منافع متقابل میان کشورهای اشتراک کننده را تقویت می کند. به نظر می‌رسد رهبران افغانستان معتقد اند که تاپی ظرفیت بالقوه گسترش روابط بین کشورهای عضو را داراست و منافع مشترک کشورهایعضو را تقویت می کند.

**اهداف و منافع اقتصادی افغانستان از مشارکت در پروژه تاپی:**

**رشد و توسعه اقتصادی:** پروژه تاپی به دلیل برداشتن مصرف چندین میلیارد دالری که در حدود ۴۵ درصد طول این خط در خاک افغانستان واقع شده است و فراهم کردن زمینه درآمد چند صد میلیون دالری بابت حق ترانزیت و مالیات و ایجاد زمینه استخدام و اشتغال برای هزاران نفر به شکل مستقیم و غیر مستقیم در کشور، نقش موثری در رشد و توسعه اقتصادی و به‌خصوص تولید ناخالص داخلی (GDP) افغانستان خواهد داشت. افزایش در آمد ملی، کاهش کسر بودجه دولت و زمینه افزایش تقاضای داخلی به دلیل در آمد زا بودن این پروژه، عواملی هستند که می‌توانند در روند رشد سریع اقتصادی افغانستان مؤثر واقع شوند. از سوی دیگر در دراز مدت از وابستگی مزمن به کمک‌های خارجی و خوداتکایی به درآمد ملی جهت تأمین منابع برای بودجه ملی را فراهم نموده و در نهایت موجب رشد و توسعه اقتصادی در کشور خواهد شد.هرچند این طرح نمی‌تواند زمینه‌ساز انقلاب اقتصادی در افغانستان باشد؛ اما می تواند برای آغاز دیگر پروژه‌های بزرگ عمرانی، بازسازی، توسعه »

اقتصادی، تولید، تجارت و ترانزیت در افغانستان مفید باشد.از نگاهی دیگر زمینه کار برای حدود ۱۰ هزار نفر را برای ۳۰ سال آینده (حفاظت و نگهداری از خط ) فراهم می‌کند.علاوه بر این اجرای تاپی می‌تواند کمک‌های در حوزه ایجاد ثبات و توسعه، تحول در زیرساخت مصرف انرژی افغانستان از نفت و ذغال سنگ به گاز طبیعی، کاهش بخشی از معضل بیکاری داشته و به افزایش تولید و رشد اقتصادی کشور کمک کند. در بعد دیگر با توجه به پیامدهای مثبت تاپی برای ولایت هرات (به‌عنوان قطب اقتصادی افغانستان) این منطقه با توسعه بیشتر می‌تواند به رشد مناطق دیگر کمک کند.

**زمینه‌سازی برای استخراج معادن گاز کشور:** هر چند منابع گازی افغانستان نسبت به منابع کشور های همسایه در صد بالایی را نشان نمی‌دهد، اما باتوجه به کشف منابع گازی در نوار مرزی شمال و شمال غربی و تثبیت در حدود ۱۰ تریلیون متر مکعب گاز در این مناطق، باتوجه به تقاضای روز افزون کشورهای واقع در شبه قاره هند به منابع انرژی، افغانستان می‌تواند در آینده از این لوله گاز جهت صدور گاز تولیدی خویش نیز استفاده نماید.

**افزایش سرمایه‌گذاری در افغانستان:** گاز به عنوان یکی از بسترهای مناسب برای رشد و انرژی بالقوه به شمار می رود.در این میان برای تأمین مالی ساخت خط لوله تاپی، بانک توسعه آسیایی، بانک اروپایی بازسازی و توسعه، جاپان، عربستان و ترکیه اعلام آمادگی نموده‌اند. این وضعیت عملاً می‌تواند هم به سرمایه گذاری خارجی در کشور کمک کند و هم‌بستر مناسبی برای سرمایه‌گذاری و توسعه داخلی باشد.

**افزایش نقش ترانزیتی افغانستان:**انتظار میرود که نقش و جایگاه افغانستان در مناسبات اقتصادی کشورهای منطقه در آغاز بازی های جدید در مناسبات اقتصادی کشورها و قدرت‌های مهم جهانی از کشوری ضعیف به پل ارتباطی کشورهای مصرف کننده و صادر کننده انرژی آسیای میانه تغییر یابد. یعنی در حالی که کشور های جنوب آسیا در حال رشد اقتصادی بوده و به انرژی زیاد نیاز دارند و در مقابل کشورهای آسیای مرکزی دارای ذخایر سرشار گاز و برق اند. افغانستان در بین این دو، دارای اهمیت فوق‌العاده ترانزیتی است و توان بالقوه برای وصل کردن این دو طرف دارد.

در واقع طرح پروژه تاپی انتقال بخشی از انرژی آسیای مرکزی به کشورهای جنوب آسیا است و تاپی می‌تواند زمینه را برای ایفای نقش ترانزیتی بیشتر افغانستان درزمینه انرژی فراهم کند. یعنی دولت افغانستان عملی شدن طرح تاپی را یکی از طرح های مهم اقتصادی برای منطقه محسوب می‌کند وموفقیت در این طرح می‌تواند موجب تسریع در خط انتقال برق، خطوط آهن، فایبر نوری و... در حوزه همکاری های منطقه‌ای گردد. در این حال باید توجه داشت که این کشور در همسایگی دو کشور عمده تولیدکننده گاز یعنی ایران و ترکمنستان می‌تواند نقش مهم‌تر در حوزه ترانزیت داشته باشد.

**کاهش وابستگی به کمک‌های خارجی:** افغانستان هرچند مصرف‌کننده عمده نیست؛ اما می‌تواند علاوه بر تأمین نیازهای گازی اقتصاد در حال رشد خود، سالانه ۴۰۰ تا ۵۰۰ میلیون دالر نیز حق ترانزیت گازی دریافت کند.مبلغی که می‌تواند کمک عمده به اقتصاد این کشور باشد. به دلیل اینکه افغانستان می تواند از حق ترانزیت گاز به‌عنوان منبعی پایدار در تأمین بودجه دولت افغانستان استفاده کند. در واقع درآمدبه‌دست‌آمده ناشی از خط لوله تاپی و همچنین تأثیرات اقتصادی آن در افغانستان عملاً تا حدی وابستگی به کمک‌های خارجی را کاهش میدهد.

**گسترش دیپلماسی اقتصادی:**در گذشته و حال تلاش های گسترده‌ای برای معرفی اهمیت اقتصادی افغانستان انجام‌شده است. در این راستا تلاش‌هایی برای برگزاری اجلاس (ریکا) و برگزاری اجلاس کشورهای قلب آسیا، طرح ایجاد راه ابریشم، انتقال خط برق تاجیکستان و قرقیزستان به پاکستان (کاسا ۱۰۰۰) و طرح راه لاجورد انجام شده است. در این میان اجرای تاپی عملاً می‌تواند گامی مهم در جهت تقویت دیپلماسی اقتصادی دولت افغانستان باشد.

**References:**
1-General information about TAPI project./https://tolonews.com/fa/afghanistan
2- Economic and political importance of TAPI project. /http://www.dailyafghanistan.com
3- Objectives and Interests of Afghanistan from TAPI project. /https://avapress.com/fa
4- Turkmenistan, Afghanistan, Pakistan and India Pipeline. /https://en.wikipedia.org/wiki



# ډالرايزيشن (Dollarization)، ګټې او زيانونه

په نړۍ کې ډېرى هيوادونه په راکړه ورکړه کې له خپلو ځانګړو پولي واحدونو کار اخلي، خو د دې تر څنګ ځينې داسې هيوادونه هم شته چې د نورو هيوادونو پيسې د خپلو چلښت وړ پيسو په توګه مني او يا هم يو څو هيوادونه سره يو ځاى کېږي او په ګډه سره له يو ډول پيسو څخه ګټه پورته کوي.

هغه هيواد په خپلو کورنيو او بهرنيو راکړو ورکړو کې د يو بل هيواد غښتلې کرنسي کاروي چې دې چارې ته ډالرايزيشن Dollarization وايي او کله چې څو هيوادونه په ګډه سره په خپلو منځونو کې د يوې ځانګړې پيسې په چلند موافقه کوي د اسعاري ټولنې يا Currency Union په نوم يادېږي چې يوه بېلګه يې د اروپايي هيوادونو تر منځ د يورو پر شريکې پيسې توافق دى.

ډېرى وختونه ډالرايزيشن په مخ پر ودې او هغو هيوادونو کې چې بشپړه ازادي ونلري او يا هم تازه خپلواکه شوي وي رامنځته کېږي، خو غير رسمي ډالرايزيشن نږدې د نړۍ په هر هيواد کې شتون لري. غير رسمي ډالرايزيشن په دې معنا دى چې د يو هيواد د کورنى پيسې د چاپ او چلښت تر څنګ ځينې راکړې ورکړې په بهرنيو اسعارو تر سره کېږي. رسمي ډالرايزيشن بيا هغه حالت دى چې يوه بهرنۍ کرنسي په رسمي ډول د يو هيواد د قانوني پيسې په توګه ومنل شي او ټولې راکړې ورکړې لکه د پورونو او مزدونو اداينه، پلور، ماليه او نورې ادائې د همدغې بيرونى‌پيسې په وسيله تر سره شي.

دا بايد هېره نه شي چې د ډالرايزيشن څخه وروسته خپلې کورنۍ پيسې ته بېرته ګرځېدل يا د هغې بيا دودول ستونزمن کار دى، له همدې امله ډېرى هيوادونه دغه کار ته زړه نه ښه کوي.

**ډالرايزيشن ګټې او زيانونه:**

لکه څرنګه چې ټولو ته معلومه ده چې په اقتصادي معاملو کې هر نوى حرکت له ځان سره ګټې او زيانونه لري. ډالرايزيشن هم له ځان سره د ګټو او زيانونو راوړنکى دى چې په لاندې ډول ورته اشاره کېږي:

»

**د ډالرایزیشن ګټې:**

نوې کرنسي د اقتصادي ټیکاو سره مرسته کوي او د اقتصادي ثبات په پایله کې بهرنۍ پانګونه را جذبېږي او همدارنګه د خپلې پیسې په توګه د یوې بهرنۍ منل شوې پیسې ټاکل د انفلاسیون مخنیوی کوي او د مبادلې لګښتونه او د ارزښت کمولو ( devaluation) زیانونه له منځه وړي.

**د ډالرایزیشن زیانونه:**

د خپلې پیسې د نه شتون په حالت کې په یو هیواد کې د مرکزي بانک اړتیا نه وي، کله چې مرکزي بانک شتون ونلري، نو طبیعي ده چې هلته به ځانګړې پولي پالیسی هم نه وي، تر څو د اړتیا پر وخت له اقتصادي نظم سره مرسته وکړي. په داسې یو حالت کې هیواد د اسعارو د حق الضرب یا seigniorage له ګټې محرومېږي. حق الضرب د یوې پیسې د ارزښت او د هغه په نشر باندې د راغلي لګښت تر منځ توپیر ته ویل کېږي، که نوموړی توپیر مثبت وي، نو دا د یو هیواد د اقتصاد په ګټه او که منفي وي، نو په زیان یې تمامېږي.

یعني که دغه توپیر مثبت وي، نو ورڅخه لاس ته راغلی عاید یې دولتونه د خپلو بېلابېلو لګښتونو د ملاتړ په موخه کاروي، د بېلګې په ډول که د سلو افغانیو د یو بانکنوټ پر چاپ او نشر دری افغانۍ لګښت راځي، نو حق الضرب seigniorage یې له ۹۷ څخه عبار دی یعنې: ۱۰۰–۳= ۹۷ او د بهرنۍ پیسې د چلښت په صورت کې د حق الضرب ګټه هم بهرني هیواد ته رسېږي. د دې تر څنګ په بهرنیو پیسو پورې تړلتیا د ژوند په ټولو چارو کې یو هیواد پر پردیو پورې تړي او د خپلې پیسې د نه شتون په صورت کې وګړي د محرومۍ احساس کوي.

د تاریخ په اوږدو کې په لومړي ځل د پاناما هیواد په ۱۹۰۴ زیږدیز کال کې امریکایي ډالر د خپلو ملي پیسو په ډول وټاکه، دا چاره د پانامې هیواد د اقتصاد په غوړېدا او پرمختګ تمامه شوه.همدارنګه کله چې ایکوادور له سخت اقتصادي بحران او انفلاسیون سره مخ شو، نو نوموړي هیواد هم په دوه زرم زیږدیز کال کې امریکایي ډالر د خپلې پیسې په توګه ومنلو چې دغه کار د نوموړي هیواد د اقتصادي ښه والي سره څه نا څه مرسته وکړه.

مخکې مو وویل چې د ډالرایزیشن پروسه ډېری وختونه په هغه هیوادونو کې چې نوي خپلواک شوي وي عملي کیږي، ځکه چې نوموړي هیوادونه تر خپلواک کېدو وروسته سمدلاسه او په بیړني ډول خپله کرنسي نشي رامنځ ته کولای او د دغه ستونزې د حل په موخه باید د یو بهرني هیواد د پیسې څخه استفاده وکړي. د نوموړو هیوادونو ښه بېلګه ختیځ تیمور دی چې تر اوږدې مبارزې وروسته یې په ۲۰۰۲زیږدیز کې د اندونیزیا څخه خپلواکي واخیسته.

ختیځ تیمور په دې موخه چې بهرنۍ پولي مرستې او پانګونه په اسانۍ سره را جلب کړي ډالر د خپلې پیسې په توګه انتخاب کړ.

په ۲۰۰۹ کال کې کله چې زمباوې د نړۍ په بدترین انفلاسیون اخته شوه، نو د دغه ناورین څخه د راوتلو لپاره یې خپله کرنسي یعنې زمباوي ډالر ختم کړ او پر ځای یې امریکایي ډالر، انګلیسي پونډ، د جنوبي افریقا رینډ او نور د خپلې پیسې په توګه وټاکل او په دې وسیله یې انفلاسیوني بحران ختم او تر هغه وروسته بېرته خپله کرنسي په دوران کې واچوي.

د ډالرایزیشن په لړ کې ډېری هیوادونه د امریکایي ډالر پرته د ځینو نورو هیوادونو کرنسیانې هم کاروي د بیلګې په ډول د پسیفیک درې کوچني هیوادونه کیریباتي، ټیوالو او نیرو د آسترالیایي ډالر څخه، نیمیبیا، سوازیلینډ او لوسوتو د خپلو رسمي کرنسیانو تر څنګ د جنوبي افریقا د رینډ څخه استفاده کوي. همدارنګه هندي روپۍ په بوتان او نیپال کې په پراخه پیمانه د چلښت وړ ده.

---

سرچینې:
۱- ډالرایزیشن / نصیر کوټوال https://www.tolafghan.com/articles/19988 /REVIEWED Updated May 07, 2022/ What Is Dollarization?BY DANIELLE ZANZALARI
BY ERIKA RASURE
۲- https://www.thebalance.com/what-is-dollarization-5214456




# ارز های دیجیتالی پایدار، مزایا و نواقص آن



محبوب الله "وفا"
مدیر موقف سرمایه گذاری های بین المللی
آمریت عمومی سیاست پولی

امروز جهان شاهد ظهور و پیشرفت های بی سابقه در عرصه بازار، ابزار های مالی و ارز های مختلف دیجیتالی است؛ هرکشور درتلاش است تا با توجه به قانون نافذه و منافع خویش زمینه استفاده از این فرصت ها را از دست نداده و با توسل به این اقدامات بتواند سهولت های با فناوری نوین امروزیرا که از سرعت، امنیت، اعتبار، شفافیت و هزینه های کم اقتصادی برخوردار است جهت افزایش میزان بهروری و روند رشد و توسعه اقتصادی خویش بکار بسته و در عین زمان زمینه بروز تکانه های که پیامد های مخرب اقتصادی را درپی دارند، محدود سازند.با آنکه استفاده از ارز های دیجیتالی مخصوصاً **ارز** دیجیتالی پایدارتوسط هیچ کشور در معاملات اقتصادی شان رسماً اعلان نشده، اما هستند کشور های پیشرفته و اقتصاد های در حال ظهورکه بسترهای مناسب (حقوقی، بازرسی و ردیابی..)را ایجاد کرده و امروز عملاً از آن منحیث یک سهولت استفاده می نمایند. اما این پدیده درکشور های درحال انکشاف و عقب مانده با آنکه تا هنوز از عمومیت و حمایت نهاد های مسوول برخوردارنیست به شکل غیر معیاری و بدون تحلیل و مطالعه دقیق از بازار و متولیان این ارز ها، توسط تعدادی انگشت شماری از »

کارگزاران (کمیشنکاران) و یا هم کلاهبرداران به پیش برده می شود. کارگزاران با توسل به روش های مختلف، به تبلیغات پرداخته،افراد و اشخاص را به روی آوردن دراین بازارها جهت سرمایه گذاری تشویق و ترغیب نموده و با اخذ مبالغ اسعاری (دالر یا یورو..) برای مشتریان خویش حساب باز نموده ودرمقابل اسعار دریافت شده، برای ایشان ارز دیجیتالی ارسال می نمایند تاآنها با استفاده از نرم افزار های دست داشته، به کارشان ادامه دهند. از آنجائیکه بازار ارز دیجیتالی پایدار با داشتن پشتوانه های مختلف نسبت به سایر بازارهای ارزهای دیجیتالی ازثبات بیشتری برخوردار است؛ اما ثبات این ارز ها از کشور های پیشرفته تا کشور های درحال انکشاف و عقب مانده به دلایل متعدد،متفاوت می باشد.

**معرفی ارز دیجیتالی پایدار:**

ارز دیجیتالی پایدار عبارت از نوعی ارز های دیجیتالی می باشدکه نسبت به سایر ارز های دیجیتالیدارای ارزش نسبتاً ثابت بوده و قابلیت استفاده منحیث ذخیره ارزش و وسیله سریع پرداخت (از طریق سیستم بلاک چین) را دارا می باشد. ارزش این ارز وابسته به پشتوانه می باشد که به آن وثیقه گردیده است و در عین زمان این ارز می تواند دارای پشتوانه های متعدد باشد؛ از پول و طلا گرفته تا ارز فزیکی یا نوعی دارایی های دیگرکه بتوان ارزش سرمایه خویش را با وثیقه نمودن به آنها حفظ کرد.

**انواع ارز دیجیتالی پایدار:**

ارز دیجیتالی پایدار به اساس نوع پشتوانه آن به چهار بخش ذیل دست بندی گردیده است:

- ارز دیجیتالی پایدار با پشتوانه ارز فزیکی یا پول های ملی یا دالر امریکایی
- ارز دیجیتالی پایدار با پشتوانه طلا یا کالا
- ارز دیجیتالی پایدار با پشتوانه ارز دیجیتالی
- ارز دیجیتالی پایدار بدون پشتوانه

با آنکه ارز دیجیتالی پایدار دارای ارزش نسبتاً ثابت بوده، اما با آن هم با در نظرداشت بستر های مختلف، مزایا و نواقص متفاوت را دارا می باشد؛ اما در این نوشته تنها روی مزایا و نواقص عمده با توجه به وضعیت اقتصادی کشورهای در حال انکشاف و عقب مانده پرداخته شده است.

**مزایای استفاده از ارز دیجیتالی پایدار:**

1. **انتقالات سریع،مصون و کم هزینه:** این بازار یک مجرای مصون، سریع و کم هزینه برای پرداخت معاملات داخلی و بین المللی به حساب می آید. کشورهای که در حال تحریم قرارداشته و محدودیت ها برای پرداخت های بین المللی خویش دارند می توانند با توسل به این راهکارها معاملات خویش را به راحتی انجام داده و ازسهولت های این ابزار استفاده اعظمی ببرند.
2. **دارای ارزش نسبتاً ثابت:** ارزش پول های ملی کشورها به دلایل وجود تورم یا قوای عرضه و تقاضا و عوامل دیگر در بازار های ملی و بین المللی دارای نوسان می باشند؛ کار بران می توانند دارایی های خویش را به سایر ارز هاتبدیل و ارزش آن را حفظ نمایند. این مزیت را می توان در ارز های دیجیتالی پایدار جستجو کرد.
3. **امنیت، شفافیت و قابلیت پیگیری:** سیستم فناوری بلاکچین امنیت، شفافیت و قابلیت پیگیری را برای کاربران تضمین می نماید. سیستم متذکره این توانایی را دارد که هریکی از معاملات را دنبال نموده، از صحت و شفافیت آنها اطمینان حاصل نماید تا کاربران با اعتماد کامل به فعالیت های خویش ادامه داده و از آن مستفید

»

گردند.

**٤. رشد صنعت گردشگری:** گردشگران با سفر به کشور های مختلف برای جلوگیری از به سرقت رفتن یا ناپدید شدن پول های شان به این ارزها روی آوردهو می توانند به راحتی و فکر آرام ازسفر خویش لذت ببرند. این اقدام نه تنها اینکه به نفع گردشگر بوده؛ بلکه برای رشد اقتصادی کشور میزبان نیز ممد واقع می گردد.

**٥. تنوع در سرمایه گذاری:** این بازار فرصت سرمایه گذاری برای دارایی ها با پشتوانه با ثبات را فراهم کرده است.این فرصت میتواند خطرات احتمالی ناشی از سرمایه گذاری را تقسیم یا اثرات آن راکاهش داده و سرمایه هارامحفوظ نگهدارد.

**٦. حفظ ثبات قیمت ها یا تورم:** امروزه استفاده از این ارز ها نه تنها به کسب درامد؛ بلکه به منظور بهره جویی از مزیت های دیگرآن نیز بکار گرفته می شود. اقتصاد های دارای تورم برای دور زدن اثرات مخرب تورم، ترجیح می دهند تا باتوسل به این ارزها،اثرات احتمالی منفی تورم که سبب افت ارزش سرمایه های شان می گردد را جلوگیری نمایند.

**٧. امکان قرار داد های هوشمند:** این سیستم قابلیت آن را دارد که قرار دادهای هوشمند را درسیستم Blockchain بدون حضور میانجی به شکل خودکار فعال وتنظیم نماید؛ مانند پرداخت قرضه ها، حقوق کارمندان وغیره که از هر لحاظ مهم پنداشته می شود.

**نواقص استفاده از ارز های دیجیتالی پایدار:**

١. **وجود سرمایه گذاری های احتکاری:** وجود سرمایه گذاران با انگیزه احتکار در این بازار ها انکار ناپذیر است.دست اندرکاران این بازارها باایجاد فرصت، از تفاوت قیمت ها سود برده و زیان های را به پیکر جامعه تحمیل می نمایند.

٢. **احتمال مسدود شدن یا از دست دادن دارایی ها:** درصورت تقابل یک کشور با کشور های قدرتمند و بروز اختلافات،وضع تحریم ها، امکان میرود که دارایی های کشور مورد هدف مسدود گردد. و یا هم گاهی ممکن به اثرخطای انسانیرمز ورودی به سیستم فراموش گردد. پس در همچو حالات امکان از دست دادن دارایی ها متصور است.

٣. **مقبولیت عامه:** اگرچه این ارزها ازتوانایی بالقوه برای جلب اعتماد عامه برخورداراست، اما ازمحدودیت های آن نمیتوانچشم پوشی کرد. برای فراگیرساختن این راهکار، هزینه و زمان کافی را باید در اختیار داشت که متاسفانه این خودیک چالش بزرگ فرا راه این روند تلقی می گردد.

۴. **فرا گیر نبودن سواد مالی:** کشور های عقب مانده دارای مشخصات مانند؛بی سوادی، فقر، وابستگی اقتصادی، عدم بهروری از مهارت های نوین وغیره می باشد. ورود به این بازار ها بدون سواد مالی، میزان آسیب پذیری کاربران را بیشتر می سازد.

۵. **امکان افزایش میزان کلاهبرداری:** تبهکاران سایبری همواره درتلاش اند تا باروش های مختلف تحت پوشش کارمند شرکت متولی ارزها یا روش های باج افزاری، کاربران را تهدید به مسدود شدن حساب یا قانع بهارسال بخشی از دارایی به وعده برگشت دو برابر آن سازند. بناءً در صورت عدم آگاهی کامل و وجود بستر های حقوقی و تخنیکی مناسب، احتمال قرار گرفتن در دام این تهبکاران متصور است.

»

۶. **امکان پولشویی و سایر فعالیت های غیر قانونی:** مجرمان درتلاش اند تا هویت و منبع در آمد خویش را پنهان نگهدارند. استفاده از این بازار ها راحت ترین روشی است که آنها جهت سفید نمودن دارایی های غیر قانونی خویش بر میگزینند.

۷. **خطر حملات سایبری:** در این شکی نیست فناوری های اخیر امنیت، مصونیت، شفافیت و سرعت فعالیت های اقتصادی را فراهم نموده است؛ اما در عین زمان نقیصه های را نیز به همراه دارد که سیستم ها را در مقابل حملات سایبری آسیب پذیر و هکر ها را قادر می سازد تا وارد سیستم شده و مبالغ هنگفت را به سرقت ببرند.

۸. **متمر کز بودن سیستم:** کاربران بازار های ارز، دنیای امروزراغیر متمرکزخوانده و مزیت های آن را نسبت به سیستم های مرکزی بر می شمارند. سیستم مرکزی امکان دخالت نهاد های دولتی را فراهم کرده و احتمال میرودکه بعضی ازمعاملات مورد بررسی قرارگرفته و مسدود شوند.

۹. **میزان نقد شوندگی:** در بعضی موارد ارز های دیجیتالی پایدار با مشکل نقدینگی مواجه میگردند. این مشکل مانع انجام کارها در وقت معینه می گردد. با این حال کاربران ممکن به محل شرکت متولی سفر و دارایی خویش را نقد نمایند که این کارسبب ضیاع وقت و مصارف گزاف میگردد.

۱۰. **هزینه گزاف برق:** استخراج رمز ارزها به برق کافی ضرورت دارد؛ کشور های عقب مانده با آنکه برق کافی برای رفع ضرورت روز مره خود ندارند، پس با اینحال نمی توانندانرژی مورد ضرورت استخراج ارزها را که از لحاظ اقتصادی هزینه هنگفت را به همراه دارد تأمین نمایند.

۱۱. **رعایت قوانین مالیاتی:** با آنکه بعضی از کشور ها رهنمایی های در این قسمت صادر کرده اند، اما با آنهم مشکلات فراوانی از لحاظ تفکیک دارایی تابع مالیه در حوزه های قضایی وجود دارد. با این حال این روند میتواند فرار مالیاتی را تسهیل بخشیده و چالش های جدی را فرا روی نهاد های مسوول جمع آوری مالیات ایجاد نماید.

۱۲. **تاثیرات بر شکنندگی بیشتر سیستم مالی:** با توجه به معایب موجود در بخش های داخلی یا تطابق پذیری در سیستم رمز ارزها؛ این سیستم روند شکنندگی و آسیب پذیری سیستم مالی کشورها را بیشتر از پول متضرر ساخته و به طرف بحران سوق می دهد. •

منابع:


۱. BIS Working Papers No 905 Stablecoins: risks, potential and regulation by Douglas Arner, Raphael Auer, and Jon Frost.

۲. G7 Working Group on Stablecoins Investigating the impact of global stablecoins October 2019.

۳. BIS Quarterly Review September 2017: International banking and financial market developments.

٤. Staff Discussion Paper/Document d'analyse du personnel — 2021-6: Bank of Canada:Stablecoin Assessment Framework by Alejandro Garcia, Bena Lands, and Dennis Yanchus

٥. Hong Kong Monetary Authority January 2022: Discussion Paper on Crypto-assets and Stablecoins

٦. HM-TreasuryJanuary 2021: UK regulatory approach to crypto-assets and stable coins :Consultation and call for evidence.

# رفع محدودیت های بانکی، استحکام و باورمندی هرچه بیشتر مردم به این سکتور را به همراه دارد

بانکها به عنوان بازوی دولت به شمار رفته و در اجرای برنامه توسعه اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی، توانمندی نظام اقتصادی، نقش محوری دارند. بانکها مجریان عرضه خدمات عام المنفعه بوده و نتیجه عرضه خدمات شان، ثبات و رونق را متضمن است. نهاد ها و جامعه جهانی به نقش و موثریت بانکهای کشور، واقف بوده از همین جهت رابطه سازندگی را نیز از ابتدا با سکتور بانکی حفظ نموده اند که بانکها در تعامل مطلوب، ولی محدود فعالیت های خویش را انجام میدهند.موثریت سکتور بانکی، دید نهاد های مالی و بانکی کشور های جهان را همواره با خود داشته است، جهان به نقش محوری سکتور بانکی اهمیت گذاشته، میدانند که فعالیت مفید بانکها و عرضه خدمات معیاری برای شهروندان، در کنار گردش سرمایه های راکد، میزان بیکاری و فقر را از میان برداشته، رفع محدودیت بانکها، تاثیر بیشتر روی حرکت نمودار این توانمندی خواهد گذاشت که در نهایت، باعث اعتماد هرچه بیشتر، تجار، سرمایه گذار و مردم افغانستان به استفاده از عرضه خدمات بانکی کشورخواهد شد. اکنون نظام بانکی کشور، در مسیر درست خدمت گذاری به مردم افغانستان قرار گرفته است و با عزم اخیر جهان متصور است که در صورت رفع محدودیت های اعمال شده روی خدمات بانکی بانکهای کشور، یک بار دیگر در مسیر رشد قرار گرفته و خدمات مؤثر را برای مردم انجام بدهند. خوشبختانه جامعه جهانی به این مهم پی برده و در رفع موانع، اقدامات لازمی را روی دست گرفته است، چنانکه تام وست نماینده ویژه ایالات متحده امریکا برای افغانستان اخیراً طی دیداری با شماری از تجار و سرمایه گذار افغانستان، در امارات متحده عربی از رفع چالش های موجود فرا راه نظام بانکی صحبت نموده است .اینکه اهمیت رفع محدودیت های بانکی و تاثیر آن بر زندگی مردم، مورد استقبال عموم شهروندان کشور میباشد، باید گفت که رونق سرمایه گذاری و رشد تولید داخلی در کنار فقر زدایی، اشتغال زایی و افزایش درامد شهروندان، بیش از هر چیز دیگر، نیازمند سراسری و عمومی بودن بانکهای کشور است که با برداشته شدن محدودیت های بانکی، کشور به آن نایل میگردد. در صورت تحقق رفع محدودیت ها، زمینه برای ورود سرمایه به کشور مساعد شده، فضای اقتصاد را رنگین، فعالیتهای اقتصادی و به ویژه فعالیت بخش خصوصی را توسعه خواهد داد. هر یک از عوامل فوق تاثیر مستقیم روی زندگی مردم داشته و با نگرش مثبت در تعامل با بانک ها، تاثیر بلند و مثبت روی زندگی مردم و اجتماع خواهد داشت. بانکها منحیث مجریان سیستم پرداخت عامل ثبات اقتصادی و رونق معاملات تجاری با مثمریت کامل برای شهروندان است، مطلوبیت این تعامل و سازگاری بانکهای داخلی و بیرونی از آنجا در خور توصیف است که نهاد های معتبر بانکی و مالی جهانی، در گستره رفع محدودیت ها، وارد تعامل کاری با بانکهای کشور شده و شهروندان ما می توانند از مزایای عرضه خدمات بانکی، بیشتر مستفید گردند، از همین رو مردم ضمن استقبال از موضع نماینده ویژه ایالات متحده در رفع محدودیت های بانکی، متوقع اند که در همه ابعاد وارد تعامل سازنده و رویکرد منصافه با افغانستان شوند.



# اقتصادي خبرونه

**سوداګر: د افغانستان اسلامي امارت په هیواد کې تر بل هر وخت د سوداګرۍ لپاره ښه زمینه برابر کړې ده**

د هیواد سوداګر وايي چې د افغانستان اسلامي امارت د امنیت او ثبات په ټینګولو سره، په هیواد کې تر بل هر وخت د سوداګرۍ لپاره ښه زمینه برابر کړې ده.

باختر آژانس ته په رسېدلي خبرپاڼه کې ویل شوي چې د ملي سوداګرو اتحادیې رئیس او غړیو او د هیواد یو شمېر نورو سوداګرو د چارو اداري لوی ریاست د غونډو په تالار کې د دولت د چارو د انسجام له مرستیال شیخ الحدیث نورالحق انور سره په ناسته کې، له سوداګرو څخه د اسلامي امارت د ملاتړ مننه کړې ده.

په دې ناسته کې شیخ الحدیث نور الحق انور ویلي چې د اسلامي امارت په راتګ سره، د هیواد په ګوټ ګوټ کې تر بل هر وخت د پانګونې لپاره ښه زمینه برابره شوې او له ملي سوداګرو یې غوښتي چې په خپل هیواد کې دې پانګونه وکړي.

په ورته وخت کې، د فکري ملکیتونو او مرکزي ثبت لوی رئیس عبدالکبیر هوتکي، هم په خپلو خبرو کې د اسلامي امارت د رهبرۍ د همکاریو مننه کړې او په وینا یې دغه همکاري د دې سبب کېږي چې سوداګر نور هم د ننداریتونو او پانګونې د پروګرامونو د پراخولو لپاره زړه ښه کړي.

دغه راز د سوداګرو اتحادیې اجرایوي رئیس حزب الله الفت ویلي چې افغان سوداګر د حکومت د اقتصادي پروګرامونو هرکلی کوي او د دغو پروګرامونو د ملاتړ په موخه خپل پروګرامونه له اسلامي امارت سره شریکوي.

**روند جمع‌آوری عواید خط آهن حیرتان-مزارشریف افغانی شد**

ادارهٔ خط آهن افغانستان از "افغانی شدن" روند جمع‌آوری عواید خط آهن حیرتان–مزارشریف خبر داد.

به گزارش آژانس باختر؛ این اداره با نشر خبرنامه‌یی گفته است که در نتیجهٔ تلاش‌های پیهم مسئولان ادارهٔ خط آهن افغانستان، ریاست خط آهن بلخ روز گذشته در مراسمی جمع‌آوری عواید انتقالات را آغاز کرد.

در این مراسم دوکتور مولوی ضیاءالرحمن ثانی رئیس خط آهن بلخ، مسئولان گمرک شهرک حیرتان و نماینده گان ازبکستان اشتراک داشتند.

به گفتهٔ منبع؛ خط آهن حیرتان–مزارشریف که در سال ۲۰۱۲م به بهره برداری سپرده شده است، عواید آن از سوی شرکت "سودیگانا ترانس" ازبکی جمع‌آوری و به حکومت سپرده می‌شد. اما پس از این، ریاست خط آهن بلخ این عواید را جمع‌آوری و به گونهٔ مستقیم و شفافیت کامل تسلیم د افغانستان بانک می‌کند.

به باور ادارهٔ خط آهن افغانستان؛ جمع‌آوری عواید از سوی ریاست خط آهن بلخ در کنار اینکه فرصت‌های کاری را برای کادرهای افغانی فراهم می‌سازد، به تاجران نیز «

تسهیلات لازم را مهیا می‌کند و در عین‌حال، افغانستان را به رشد و استقلال اقتصادی و خودکفایی می‌رساند.

ادارهٔ خط آهن افغانستان هم‌چنان خاطر نشان کرده است که با قوت تمام تلاش خواهد کرد که تمام امور خط آهن کشور را "افغانی" بسازد تا برای همه افغانان به ویژه کادرهای کشور فرصت‌های کاری فراهم شود.

گفتنی است که خط آهن حیرتان–مزارشریف ۱۰۶ کیلومتر طول دارد که افغانستان را به ازبکستان وصل می‌کند. هم چنان از طریق این خط آهن، سالانه حدود 3 میلیون متریک تُن انتقالات صورت می‌گیرد که حدود ۳۰ میلیون دالر امریکایی به خزانه دولت واریز می شود.

**د ریاست الوزرا مرستیال: په افغانستان کې د پانګونې لپاره بې ساري فرصتونه برابر دي**

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر نن له ملي سوداګر او د شهزاده سرای ښتن ښاغلي بابرسدوزي سره په سپیدار مانۍ کې وکتل

په دې کتنه کې بابر سدوزي چې له افغان شخصیتونو سره د اړیکو کمېسیون له لوري تازه هیواد ته راستون شوی، پر دې خوښي وښوده چې د اسلامي نظام تر چتر لاندې خپل هیواد ته راغلی.

نوموړي وویل، چې د هیواد د اقتصادي ودې په موخه غواړي هم په خپله پانګونه وکړي او هم نور سوداګر او شرکتونه پانګونې ته وهڅوي.

هغه زیاته کړه، له نیکه مرغه د پانګونې او سوداګرو پر وړاندې دوه اساسي ستونزې فساد او نا امني له منځه تللي او سوداګر په افغانستان کې پانګونې ته چمتو دي.

د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبد الکبیر له ښاغلي بابر سدوزي او هیواد ته له ټولو راستنو شویو شخصیتونو څخه د مننې ترڅنګ وویل، ټول افغانان په خپل هیواد کې باعزته او ارام ژوند کولای شي.

مولوي عبدالکبیر وویل، اسلامي امارت ټولو پانګه والو او سوداګروته د امنیت ډاډ ورکوي او دا مهال په افغانستان کې د پانګونې او سوداګرۍ لپاره بې ساري فرصتونه او شرایط برابر دي.•

---

سرچینې:

۱- ایران د افغانستان پر کانونو پانګونې ته لېوالتیا ښودلې ده – باختر خبری آژانس(bakhtarnews.af)

۲–دویچه وله دری



# د افغانستان د هوايي دهلیز فعالیدل صادراتي وده رامنځته کوي

ليکنه: سيد خالد خالقيار

د افغانستان د هوايي دهلېز فعالېدل صادراتي وده رامنځته کوي او د هيواد د اقتصادي پياوړتيا لامل کيږي. افغانستان په وچه کې را ګير او د آسيا په زړه کې پروت هيواد دی چې د بډايه طبيعي زېرمو او همدارنګه د غوره کرنيزو محصولاتو لرونکی دی چې په نړيوالو بازارونو کې ښه شهرت لري.

که د دې هيواد د معدنونو درا سپړنې او کرنيزو محصولاتو د توليد په برخه کې اړينې آسانتيا وې را منځته شي ليرې نده چې دا هيواد به له واردونکي هيواد څخه پر صادرونکي هيواد بدل شي.بايد وويل شي هغه هيوادونه چې په وچه کې را ګير دي د خپلو صادراتو او وارداتو لپاره هوايي دهلېزونه لري، افغانستان هم د هغو هيوادونو په څېر هوايي دهلېز لري او د دې دهلېزپر مټ د خپل هيواد صادراتي توکي او محصولات نورو هيوادونو ته استولای شي.

د معلوماتو پر بنسټ په افغانستان کې د

«

هوايي دهلېز پر طرح د لومړي ځل لپاره په ۲۰۱۶ زېږدیز کال کې د ګاونډیو آسيايي هیوادونو په شپږمه غونډه کې خبرې وشوې او د ۲۰۱۷ زېږدیز کال په لومړیو کې د افغانستان او هندوستان ترمنځ هوايي دهلېز پرانیستل شواو ددواړو هیواد ونو تر منځ د صادراتو او وارداتو د لیږد لړۍ پیل شوهچېله دغه تړون څخه وروسته له نورو هیوادونو لکه قزاقستان، چین، ترکیې، سعودي عربستان، روسیې او اروپايي ټولنې سره هم هوايي دهلېزونه پرانیستل شول.

په لنډ ډول ویلای شو چې د هیواد د هوايي دهلېز پرانیستل کولای شي د نورو هیواد ونو سرهد صادراتي محصولاتو او توکو په لیږدولو کې آسانتیاوې رامنځته کړي. د دې دهلېزونو د فعالېدلو ګټه به دا وي چې پر وخت سره تر نړیوالو بازارونو پورې د افغانستان محصولات په لږ وخت کې د دې هیواد په خپل نوم صادر شي.

په تېر کې ستونزه دا وه چې د افغانستان صادراتي محصولات پر خپل وخت تر نړیوالو بازارونو نه رسېدل او د یو شمېر نورو هیوادونو لخوا د دې هیواد کرنیز محصولات د پردیوهیوادونو پر نومونو نړیوالو بازارونو ته استول کېدل، خو د هوايي دهلېزونو بیا ځلي پرانیستل دا ستونزه هوارولای شي.

دا هم باید هېره نه کړو چې بهرنیو هیوادونو ته د افغانستان د محصولاتو د لیږد په برخه کې د دې محصولاتو بسته بندي د ډېر ارزښت وړ ده، په دې برخه کې اړتیا ده چې ټول نړیوال معیارونه په نظر کې ونیول شي.

په تېرو کلونو کې یوه ستونزه دا هم وه چې بهرنیو هیواد ونو ته په لېږدول کېدونکو محصولاتو کې د بسته بندۍ ستونزه موجوده وه او څو ځله له دې امله سوداګر له ستونزو سره مخ شول چې په سوداګرۍ کې یې خنډونه رامنځته شول. همدا رازځرنګه چې پورته یادونه وشوه چې افغانستان د بډایه کاني زېرمو لرونکی هیواد دی، دې ټکي ته په کتلو سره ویلای شو چې که په دې برخه کې پانګونه وشي لدې سره به نه یوازې دا چې خلکو ته په کور دننه د کار روزګار زمینه برابره شي، بلکې د افغانستان د صادراتو په کچه کې به د لیدنې وړ زیاتوالی رامنځته شي.

همدارنګه د دې هیواد د کرنې برخې ته پاملرنه او په دې برخه کې پانګونه د دې لامل کېدای شي چې افغانستان له وارداتي پر صادراتي هیواد بدل کړي.

بلخوا که د افغانستان نورې ترانسپورتي لارې جوړې شي د صادراتو په استولو کې به ډېرې اسانتیاوې رامنځته شي د ګاونډیو هیوادونو ازبیکستان، تاجکستان، ایران او نورو سره د ریل ګاډي پټلۍ جوړل کولای شي د افغانستان په صادراتي وده کې مرسته وکړي او د دې هیواد کرنیز محصولات او نور توکي پر وخت سره تر نړیوالو بازارونو ورسوي.●

---

سرچینې:


1. د هوايي دهلېز پرانیستل او په وړاندې یې ننګونې – ۸صبح ورځپاڼه
2. دهلېزهای هوایی؛ محرك اقتصادی یا مانور تبلیغاتی؟ – روزنامه اطلاعات روز
3. دهلیز هوایی؛ امیدی برای رشد اقتصادی – ویب سایت خبری کلید گروپ
4. چین ته د هوايي دهلیز له لارې ۴۵ ټنه جلغوزي ورسېدل
5. دهلیز تجارت هوایی بین افغانستان و ترکیه افتتاح شد | افغانستان

# د افغانستان د مسو کانونه د دې هیواد د ښې راتلونکې لپاره هیلې زیاتوي

افغانستان د بېلابېلو منرالونو بډایه کانونه او همدارنګه د تېلو او ګازو پراخې زېرمې لري. خو تر اوسه د اقتصادي وضعیت د ښه والي په برخه کې له دې بډایه طبیعي زېرمو ګټه نه ده اخیستل شوې. که د دې هیواد له کانونو په ښه ډول کار واخیستل شي لیرې نه ده چې په هیواد کې د فقر کچه را ټیټه او پر یو بډای او صادروونکي هیواد بدل شي.

معلومات ښیي چې د افغانستان په خاوره کې بې شمېره کانونه شته چې ځینې یې د کشف او سپړنې دورې په تېرېدو سره د کانونو د استخراج لپاره چمتو شوي او د کیندنې عملي چارې یې روانې دي، خو لا هم په ډاډ سره ویلای شو چې د افغانستان ډېر کانونه پر ځای پاتې دي او لاس نه دی ور وړل شوی.

په افغانستان کې تر ټولو مهمې پېژندل شوې کاني زېرمې طبیعي ګاز، د ډبرو سکاره، اوسپنه، تېل، مس، یورانیم، مالګه، کروم، نکل، طلا، سلفر، باریت، زنک، فلورین، تالک، مګنیزیم، لاجورد، المونیم، یورانیم اور وژونکي پنبه، میرکري باکسایټ، کلسایټ، لیتیم، منګنیز، مرمر، جست، د چونې ډبره او داسې نورو کاني موادو زیرمې موجودې دي.

**دا چې په یوه مقاله کې د دې ټولو یادونه له امکان څخه لرې خبره ده دلته یوازې د مسو د کانونو په اړه په لنډه ډول معلومات وړاندې کېږي:**

د کانونو او پترولیم وزارت د معلوماتو پر بنسټ په افغانستان کې د مسو شاوخوا

»



۳۰۰ مستندي زېرمې شته، خو تر اوسه د مسو په ۱۲ کانونو کې څېړنې شوې دي. د لوګر، هرات، فراه، کاپیسا، کندهار، زابل په ولایتونو کې د مسو کانونه او د افغانستان په سویل کې د عینک جوهر او د دربند د مسو کانونه شامل دي. د اټکل له مخې افغانستان ۶۸۵۰۰ میلیونه ټنه مس لري چې په لاندې ولایتونو کې موجود دي:

۱- د بلخاب سرپل د مسو کان

۲- د کوتل خاواك پنجشیر کې د مسو کان

۳- د فرنجل غوربند د مسو کان

۴- د پنجشیر جیرالی او توخ د مسو کان

۵- د کوه چراغاني د مسو کان

۶- د لوګر د مسو کان په ګولدره سیمه کې

۷- د کوهدامن درې د مسو کان

۸- د کوتل قلیچ د مسو کان، د کوهمرد سود، بامیان

۹- د ارغنداب د مسو کان، توخي کندهار

۱۰- د کابل ولایت د دربند د مسو کان

۱۱- د ګولګاه فراه د مسو کان

۱۲- د شهدا د مسو کان، هرات

۱۳- د الیسینګ دره د مسو کان، بغلان

۱۴- کیشان فاریاب

۱۵- د زابل ولایت د کندلان د مسو کان

**له دې ډلې تر ټولو لوی کان** د عینک د مسو کان دی چې د لوګر ولایت د محمداغې ولسوالۍ په (عینک) سیمهکې موقعیت لري. دا سیمه د کابل سویل لوېدیځ ته په ۳۰ کیلومترۍ کې او د تورخم-اسلام کلا لویې لارې په اوږدو کې پرته ده. دا کان په افغانستان کې د مسو تر ټولو لوی کان او په نړۍ کې د مسو دوهم کان دی. د دغو کانونو ټولیز ذخیرې ۱۱.۳ میلیونه ټنه مس او ۲.۳ سلنه مسو او یوه محدوده اندازه سره زر ده.

**د عینک د مسو په کان کې پانګونه:**

د عینک د مسو په کان کې د پانګونې هوکړه لیک د MCC شرکت او د افغانستان د کانونو وزارت ترمنځ د ۲۰۰۸ کال د اپریل په ۲۵ لاسلیك شو. ټاکل شوې وه چې یو چینایي شرکت په لومړي پړاو کې په دې پروژه کې ۲.۸۹۸ میلیارده ډالره پانګونه کړې او دغه پانګونه به ۵ ملیاردو ته لوړه شیاوله دې پانګونې څخه به افغانستان ته په کال کې ۴۰۰ میلیونه ډالره ورکړل شي. د هوکړه لیک له مخې چین باید ۸۰۰ میلیونه ډالره د تضمین په توګه ورکړي او قراردادي شرکت د افغانستان د ډېرو سکرو د استخراج په موخه د ښوونځیو او جوماتونو لپاره د اوبو رسولو اسانتیاوو سره د ۴۰۰ میګاواټه برېښنا بند د جوړولو هوکړه هم کړې وه.

هوکړه لیک کې دغه شرکت دا هوکړه کړې وه چې له تورخم څخه تاجکستان ته د عینک له لارې تر کابله، وروسته د حاجي ګګ تر کان، له هغه ځایه د افغانستان شمال ته د دره صوف او له شمال څخه تاجکستان ته د اورګاډي پټلۍ غځوي. دغه راز، ترلاسه شوي سره زر د افغان دولت اړوند ؤ.

د دغې پروژې په لومړي پړاو کې به ۸ زره کسانو ته د کار زمینه برابره شي او په دویم پړاو کې به ۱۵ زره کسانو ته د کار زمینه برابریده.

د هوکړه لیک بله ماده د اورګاډي پټلۍ جوړول ؤ چې د هېواد له شمالي بندرونو حیرتان یا شیرخان بندر څخه د سمنګان ولایت له دره صوف ولسوالۍ او د بامیان ولایت له کهمرداو د پروان ولایت څخه تېرېږي. او د کابل له لارې د مسو عینکې سره نښلوي.

**مس عینک، په افغانستان کې د پر ځان بسیاینې په لور هیله**

د کانونو را سپړنه په افغانستان کې له اقتصادي بحران څخه د وتلو یوازینۍ لار او د بیخبنسټونو پراختیا ده.د کانونو او پټرولیم وزارت د راپور له مخې، د عینک د مسو کان په نړۍ کې د مسو له سترو کانونو څخه دی.

د لومړنیو څېړنو له مخې، که د عینک د مسو کان استخراج شي، افغانستان به له دې لارې هر کال شاوخوا ۳۵۰ میلیونه ډالره عاید ترلاسه کړي.

د عینک د مسو کان استخراج د

»

کارموندنې، عایداتو د زیاتوالي او د زیربناوو د پراختیا په برخه کې د افغانستان لپاره یوه ستره پروژه بلل کیږي او تمه کیږي چې د کانونو په سکتور کې به لږ تر لږه ۸۵۰۰ مستقیمې دندې او څه باندې ۳۰ زره غیر مستقیمې دندې رامنځته شي.

خوشبختانه چې په هیواد کې د افغانستان د اسلامي امارت له حاکمیت سره په دې برخه هلې ځلې زیاتې شوې دي او ښکاري چې په هیواد کې په قانوني ډول د کانونو د را سپړنې لپاره کلکه اراده شتون لري او ډېر ژر به د نړۍ په کچه بډایه هیوادونه افغانستان کې د کانونو په برخه کې د پانګې اچونې لپاره زړه ښه کړي.

**د لرغونو آثارو کشف**

د چین هیواد له MCC شرکت سره د هوکړې له مخې تړاکل شوې وه چې د دغه کان د استخراج چارې په ۲۰۱۳ میلادي کال کې پیل شي، خو پریکړه وشوه چې په دې سیمه کې د لرغونو اثارو د موندلو له امله د استخراج د عملیاتو تر بشپړېدو او د دغو ټولو اثارو تر موندلو پورې به یې چارې وځنډول شي.

د عینک د مسو د کان په شاوخوا کې له شلو څخه زیات لرغوني اثار چې دوه نیم زره کاله لرغوني دي، د پنځمې نه تر شپږمې میلادي پیړۍ پورې د بودایانو ګڼ شمېر زیارتونه هم موندل شوي او پېژندل شوي دي.

اوس د کانونو او پټرولیم وزارت وایي چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په همکارۍ د دغه لرغونو اثارو د ساتنې په موخه کان ته نږدې یو موزیم جوړوي.

داطلاعاتو اوفرهنګ وزارت دمعلوماتو له مخې دغه نوي کشف شوي اثار له تاریخي پلوه ډېر ارزښتناک دي، څکه چې ډیری دا اثار د کوشانیانو او سامانیانو دورې ته ځي، یعنې په لومړۍ او اتمه پیړۍ کېپه مس عینک کې تر دې مخکې هم د اوسیدو ځایونه موندل شوي چې د ساینس پوهانو په باور دا یوه لرغوني بودایي ښار پاتې شوني دي.

معلومات ښیي چې له ۲۰۰۹ څخه تر نن ورځې پورې، نږدې ۲۵۰۰ لرغوني اثار کشف شوي دي له دغو اثارو څخه ۲۰۰۰ اثار په کابل کې په ملي موزیم کې ساتل شوي دي. د دغو اثارو پاتې نور په مس عینک کې ساتل کیږي.

اوس د مس عینک د لرغونو اثارو د استخراج چارې د اطلاعاتو کلتور وزارت ته سپارل شوي دي. په تأسف سره باید وویل شي چې تر ۲۰۰۹ کال پورې د عینک د مسو لرغوني اثار په ناقانونه توګه استخراج شوي او د دغو ارزښتناکو اثارو ډیری یې لوټ شوي دي.

په لنډ ډول ویلای شو چې افغانستان د مسو د زېرمو له کبله یو غني هیواد دی او که چېرته دې برخې ته پوره پاملرنه وشي لیرې به نه وي چې دا هیواد د نړۍ د غني هیوادونو په کتار کې را ولي او بیوزله هیوادوال مو د تل لپاره د بل له احتیاجه خلاص کړي.

لیکنه: عبدالله مایار
د افغانستان بانک اقتصاد شننونکی

سرچینې:
۱– د مس عینک کان؛ د افغانستان د پر ځان بسیاینې لپاره یو خوب چې لا نه‌دی رښتیا شوی / https://pa.azadiradio.com/a/31731791.html
۲– د عینکو مېس کان / https://ps.wikipedia.org/wiki/
۳– د عینکو مس کان هر کال ۴۰۰ میلیونډالرګټه لری / https://8am.af/%D8%AF
۴– د کانونو تاریخ / https://momp.gov.af/ps
۵– ولې چین د افغانستان لپاره مهم دی؟ / https://mandegardaily.com/?p=29230
۶– بي بي سي پښتو: / https://www.bbc.com/pashto/afghanistan/2015/06/150603_hh-ainak-copper-mine-agreement-saba



# عوامل رشد اقتصادی افغانستان کدام ها اند؟

عبدالحفیظ شاهین

رایج ترین تعریف رشد اقتصادی عبارت از افزایش بازدهی اقتصاد در طول دوره زمانی که حد اقل دو دوره ای ۳ ماهه متوالی بوده باشد است. ساده ترین معیار رشد اقتصادی عبارت از تقسیم کردن تمام کالا ها به دو دسته ی اصلی " کالا های مصرفی" و کالا های " سرمایه ای "می باشد.

با توجه به این تعریف شیوه های رشد اقتصادی افغانستان را می توان از قرار ذیل به بحث گرفت:

بکار گیری تکنالوژی های جدید: سرمایه گذاری روی تکنالوژی جدید، بازدهی بالقوه را برای تمام کالا ها و خدمات افزایش می دهد. در شرایط فعلی بدون شک تکنالوژی جدید موثر تر از تکنالوژی سابقه می باشد. در این مورد ما مشاهده می کنیم که میکانیزه سازی گسترده در قرن های ۱۸ و ۱۹ به انگلستان این شرایط را مساعد ساخت تا مقادیر بزرگی از بازدهی را از منابع نسبتاً اندکی به دست آورده و به نخستین کشور صنعتی جهان مبدل شود.

در سال های اخیر نرخ رشد سریع کشور چین نیز مدیون به کار گیری تکنالوژی های جدید در قسمت تولیدات این کشور می باشد. در این عرصه اگر سرمایه گذاری نا کافی باشد اقتصاد رشد نخواهد کرد، در واقع بخاطر اینکه به مرور زمان از ارزش سرمایه کاسته می شود، بناءً لازم است تا بخشی از منابع به کالا های سرمایوی اختصاص داده شود تا فعالیت های اقتصادی به حالت خود باقی مانده

»

کوچک تر نشوند.
افزایش سرمایه فزیکی نظیر سرمایه گذاری روی کارخانه ها، ماشین آلات و جاده ها مصارف فعالیت های اقتصادی را کاهش داده و در پی آن کارخانه ها و ماشین آلات به بهره وری بیشتر می رسند. بهره وری بیشتر می تواند باعث افزایش تولید شود. به طور نمونه می توان گفت که داشتن یک جاده ی معیاری می تواند با عث کاهش ناکار آمدی در انتقال کالا به وقت و زمان به سراسر کشور شده و تولید ناخالص داخلی افزایش یابد.
تقسیم کار بر اساس تخصص، یعنی چگونه می توان تولید را به وظایف مختلف تقسیم کرد و امکان توسعه ماشین آلات مختلف را بخاطر کمک در عرصه تولید فراهم کرد تا نیروی کار در محدوده ای کاری خود تخصص پیدا کند. تخصصی شدن وظایف و تقسیم کار می تواند موجب رشد قابل توجهی در ظرفیت تولید شود.
بخاطر رشد و توسعه اقتصاد کشور باید از روش های جدید تولید که باعث افزایش باز دهی می شود استفاده بعمل آید. به طور نمونه می توان از افزایش نیروی کار نام برد. افزایش نیروی کار به توسعه اقتصادی این امکان را می دهد تا باز دهی به شکل بالقوه افزایش یابد. این گونه افزایش می تواند از طریق رشد طبیعی جمعیت در شرایطی ایجاد شود که نرخ تولید، بیشتر از نرخ مرگ و میر باشد.
باید گفت که سرمایه انسانی در کشور یک سرمایه واقعی است، عدم سرمایه گذاری بیشتر در این عرصه، موجب کاهش ظرفیت اقتصادی می شود. سرمایه واقعی مانند ماشین آلات و سایر تجهیزات تولیدی در اثر استفاده کهنه و فرسوده شده و به مرور زمان بهره وری آن کاهش می یابد.
بناءً بهره وری کار نیز به کسب مهارت جدید بستگی دارد. اگر روی نیروی انسانی و تکنالوژی جدید سرمایه گذاری نشود، امکانات تولید آرام آرام به رکود می رود. رشد اقتصادی معمولاً به عنوان تابعی از سرمایه فزیکی، سرمایه انسانی، نیروی کار و تکنالوژی جدید می باشد، به خصوص افزایش کمیت یا کیفیت جمعیت در محل کار و ابزار های که باید با آنها کار شود منجر به افزایش بازده اقتصادی می گردد.
همچنان یکی از عوامل تأثیر گذار در رشد اقتصادی بهبود تکنالوژی است، تکنالوژی معلوماتی می تواند سطح کار را افزایش داده و روند توسعه را تسریع کند. تکنالوژی می تواند به مصارف کمتری به کار تولید پرداخته، در نهایت منجر به رشد مداوم در دراز مدت می گردد. افزایش جمعیت به معنی در دسترس بودن نیروی کاری است نه نیروی که منجر به سطح بالای بیکاری شود.
باید تذکر داده شود که در آینده رشد اقتصادی افغانستان بیشتر متکی به زراعت بوده، در حدود ۸۰ فیصد مردم افغانستان درآمد شان از طریق زراعت به دست می آید، بهبود تولیدات زراعتی در حقیقت یک راه موثر برای بهبود درآمد و ایجاد فرصت شغلی می باشد. استخراج معادن مانند تیل و گاز اگر به یک حقیقت تبدیل شود به اندازه کافی عواید حکومت را برآورده می سازد.هماهنگی با کشور های منطقوی و روابط تجاری میان کشور های همسایه و انکشاف حمل و نقل می تواند به توسعه اقتصادی افغانستان کمک کند. در نهایت می توان با رشد سکتور خصوصی در بخش های مختلف بیشتر کاستی های اقتصادی افغانستان را مرفوع ساخت. •

---


منابع:
۱-What Are Ways Economic Growth Can Be Achieved?-۱

https://www.investopedia.com › Economy › Economics
۳-برای پیشرفت اقتصادی چه باید کرد؟ □ اقتصاد آنلاین تاریخ نشر ۱۱/۲/۱۳۹۸

https://www.eghtesadonline.com › ...



# په اقتصادي وده کې د سپما ارزښت

لیکنه: ح ن

معلومات ښیي هغه هیوادونه چې د سپما لوړ نرخونه لري د هغو هیوادونو په پرتله چې د سپما ټیټ نرخونه لري ګړندی اقتصادي وده لري او دا هم باید هېره نه کړو چې د یو هیواد اقتصادي وده په پانګونه پورې تړلې ده او پانګونه بیا تر ډېره د پانګې تشکیل ته اړتیا لري.

په دې مقاله کې د سپما او پانګې د تشکیل په اړه هم لنډیز وړاندې کېږي د پانګې تشکیل هغه پروسه ده چې په ترڅ کې یې سپما شوې پیسې د انفرادي اشخاصو او کورنیو څخه کاروباري سکتورونو ته په مستقیمه توګه د پانګونې په ډول او په غیر مستقیمه توګه د بانکي حسابونو له لارې نورو شرکتونو ته د پور په ډول ورکول کېږي.

پانګه څنګه جوړېږي؟

پانګه دوه بنسټیزې سرچینې لري، کورنۍ سرچینې او بهرنۍ سرچینې:

د پانګې د جوړښت کورنۍ سرچینې په ملي سپماوو پورې تړاو لري، ملي سپماوې په دوو ډولونو وېشل شوې دي چې انفرادي سپما او دولتي سپما بلل کېږي.

انفرادي سپما (private saving) پر دوو اساساتو ولاړه ده، د سپما کولو ځواک (power to saving) او د سپما کولو اراده (will to saving)

د سپما کولو ځواک په دې معنا دی چې که یو څوک غواړي چې سپما وکړي هغه کس باید د سپما کولو توان ولري یعنې هغه دومره عاید ولري چې له هغې څخه سپما وکړای شي. او همدارنګه د سپما کولو اراده د سپما لپاره ډېره اړینه که یو څوک ډېر زیات عاید هم ولري، خو هغه د دې اراده و نه لري چې سپما وکړي هېڅکله نه شي کولای چې سپما رامنځته کړي، نو دې ته په کتو سره ویلای شو چې د سپما لپاره د

»

ارادې شتون د سپما اساس جوړوي.

دولتي سپما (public saving) لکه څرنګه چې ټولو ته معلومه ده د پانګې د جوړښت یوه سرچینه سپما ده، ویلای شو چې په یو هیواد کې هر څومره د سپما کچه لوړېږي په هماغه کچه د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره لاره هوارېږي.

هغه کسان چې سپما کوي، شرایطو ته په کتلو سره خپله سپما شوې پانګه په کار اچوي چې له دې سره یو ځای په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار او روزګار زمینې برابرېږي. خلکو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د دندو له پیدا کېدو سره یو ځای په عوایدو کې زیاتوالی رامنځته کېږي او دولتونو ته له دې لارې د مالیاتو د ورکړې زمینه هم برابرېږي.

همدا شان ویلای شو چې د خلکو د عوایدو په زیاتېدو سره تقاضا هم لوړېږي کله چې د دوی تقاضا لوړه شي، نو نوي تولیدي ظرفیتونه به رامنځته شي چې پدې سره به د فقر دایره کمزورې او په سړي سر عوایدو کې به هم د پام وړ زیاتوالی رامنځته شي او د اقتصادي پرمختیا پروسه به ګړندۍ شي.

معکوس حالت یعني که چیرې سپما نه وي، نو په داسې حالت کې د پانګې جوړښت هم نه رامنځته کیږي چې پایله یې د پانګونې نشتوالی، د تولیدي ظرفیتونو د کمښت د رامنځته کېدو، بې روزګاري، فقر او نور کېدای شي.

د پورته بحث څخه دې پایلې ته رسېږو چې که یو هیواد غواړي له اقتصادي پلوه پرمختګ وکړي، نو پکار ده چې د سپما لپاره خلک وهڅوي او د خلکو د سپما شوو پیسو لپاره د کار زمینه برابره کړي.

**د سپما ډولونه**

سپما ډېر ډولونه لري چې په لاندې ډول پرې رڼا اچول کیږي:

**۱ – کاروباري سپما**

کاروباري او د ګډو پانګو لرونکې اداري دي چې ګټه یې د برخه‌والو لخوا نه وېشل کیږي او یوازې د کاروبار لپاره ترې استفاده کیږي.

**۲ – انفرادي سپما**

دا هغه سپما ده چې اشخاص یې د خپل عاید څخه ساتي، د بېلګې په ډول احمد په میاشتني ډول ۲۰ زره افغانۍ عاید لري، نوموړی له خپل عاید څخه ۵ زره افغانۍ ساتي چې دې ته انفرادي سپما ویل کیږي.

**۳ – دولتي سپما**

کله چې د دولت کلني عواید له کلنیو لګښتونو څخه زیاتوالی ومومي، نو په عوایدو کې راغلي زیاتوالي ته دولتي سپما ویل کیږي.

**۴ – لازمي سپما**

ځینې وختونه دولتونه د خلکو له خوښې پرته د خپلو پرمختیایي کارونو د پرمختګ او پانګې جوړولو لپاره د ټکس په کچه کې لوړوالی راولي، دا چاره د دې لامل کېږي چې د خلکو د پېر قدرت را ټیټ کړي او خلک د پخوا په پرتله کم شی واخلي. له دې ډول ټکس څخه تر لاسه شوي عاید ته لازمي سپما وایي.

که څه هم د سپما کولو په اړه تر دې دمه یادونه وشوه، خو دا باید هېره نه شي چې سپما په هغه صورت کې اقتصادي پرمختیا ته ګټوره وي، کله یې چې خلک د پانګونې لپاره یې ترسره کړي، یعني که یو شخص وغواړي چې په راتلونکي کې یو کاروبار پیل کړي او د هغې لپاره یوه اندازه پیسې سپموي ښه خبره ده، خو که چېرې یو شخص د راتلونکي وخت لپاره پدې نیت پیسې سپموي چې پانګونه نه کوي او یوازې یې ذخیره کوي، نو پدې صورت کې دغه سپمول شوې پیسې په حقیقت کې له ګردښت اېستل شوې دي چې په پایله کې دغه له ګردښت څخه اېستل شوې پیسې، بیا د انفلاسیون د رامنځته کېدو لامل کېږي او ډېری دا چاره بیا په اقتصادي پرمختیا کې د تېزوالي پر ځای سست والی رامنځته کوي او یو هیواد په لنډه یا اوږده موده کې د پولي ستونزو سره مخامخ کوي.

سرچیني:

1. The impact of savings on economic growth in a developing country (the case of Kosovo)/Published: 08 January 2021
2. https://innovation-entrepreneurship.springeropen.com/articles/10.1186/s13731-020-00140-6
3. The Effects of Saving on Economic Growth
4. https://thesis.eur.nl/pub/17697/S.J.A.-Opschoor-341080.pdf
5. Boosting Domestic Savings – A Key to Sustainable Growth in Turkey/ March 14, 2012
6. https://www.worldbank.org/en/news/press-release/2012/03/14/boosting-domestic-savings-a-key-to-sustainable-growth-in-turkey

# د پيسو نړيوال صندوق (IMF) پېژندنه

د پيسو نړيوال صندوق يا ( International Monitory Fund ) يو نړيوال سازمان دی چې د نړۍ په کچه د پيسو د سيستم څارنه کوي. د پيسو نړيوال صندوق د نړۍ د اقتصاد د وضعيت د ارزونې او وړاندوينې لپاره يو له معتبرو او باوري سرچينو څخه دی.

**د دې صندوق د رامنځته کېدو موخې:**

الف:د نړيوالې پولي همکارۍ پراخول او د نړيوالې سوداګرۍ متوازنه وده اسانول

ب: د غړو هيوادونو ترمنځ د اسعارو باثباته سيستم رامنځته کول او د پيسو د ارزښت کمولو سياليو څخه ځانساتنه

ج: د غړو هيوادونو د تادياتو د کسر يا Balance of Payment په موضوع کې د صندوق دمنابعو له لارې هغو ته سرچينې چمتو کول

**د پيسو د نړيوال صندوق تاريخچه:**

د پيسو نړيوال صندوق د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنيزې شورا تر څارنې لاندې فعاليت کوي. مګر په اصل کې، دا يوه خپلواکه اداره ده، چې د ۲۰۱۹زيږديز کال د سپتمبر راهيسې مېرمن »کريستالينا جورجيوا«د دې صندوق مشري پر غاړه لري. IMFپه ۱۹۴۵زيږديزکې د بريټن ووډز سيستمBretton-Woods Conferenceپر بنسټ تاسيس شو او په ۱۹۴۷زيږديز کالکې يې رسمي کار پيل کړ. دا نړيوال سازمان يو لړ مهم اهداف تعقيبوي لکه د پولي مسلو په اړه د نړيوالې همکارۍ پراخول، د اسعارو محدوديتونه لرې کول ، د تبادلې نرخ ثابت ساتل او د غړيو هيوادونو ترمنځ د څو اړخيزو تادياتو سيستم فعاليت اسانول. اوس مهال دا صندوق ۱۸۹ غړي هېوادونه لري.

په ۱۹۸۷زيږديز کال کې، د صندوق ټولې پيسې شاوخوا ۹۰ مليارد ډالر وو. د صندوق دغه مالي سرچينې د تادياتو د توازن په موخه د لنډمهاله ستونزو د حل لپاره کارول کيږي او د هر هېواد لهپاره د پور ورکولو فيصدي پهکې معلومه ده.د يادولو وړ ده، چې پهدې صندوق کې د تغيراتو په موخه تل ۸۵ سلنې رايې ته اړتيا لري، له ۱۹۸۰ز راهيسې چې د امريکا د رای ورکولو حق (ويټو) ۲۲ سلنه دی او د اروپايي ټولنې ۲۷ سلنه دی، نو دا دواړه حق لري، چې د صندوق د بدلونونو يا تصميمونو په اړه رايه وکاروي.



ليکنه: عبدالوافي نايبزی

هر غړی هيواد چې د تادياتو د لنډمهاله کسر سره مخ کيږي، کولی شي د پيسو پر بنسټ د فنډ څخه د اړتيا وړ پيسې ترلاسه کړي؛ البته، دا ترلاسه شوي اسعار بايد له دريو څخه تر پنځو کلونو پورې بيرته واخيستل شي. له بلې خوا، هغه غړي چې کسر لري، اړ دي چې د صندوق له مسوولينو سره مشوره وکړي ترڅو د

»

قرارداد شرایطو سره سم د تادیاتو توازن ښه کړي.د پیسو نړیوال صندوق پرېکړې د نړۍ د هېوادونو پر اقتصادي وضعیت د پام وړ اغېز لري. د پیسو نړیوال صندوق اکثرا د تمویل لپاره وروستی ځای بلل کیږي. یعنې کله چې هېوادونه له جدي مالي بحران سره مخ شي، د مالي مرستې لپاره دې سازمان ته مخه کوي.

غړي هېوادونه:

د پیسو نړیوال صندوق د ملګرو ملتونو ۱۸۹ غړي هېوادونه دي. کېوبا په ۱۹۶۴زیږدیز کې له غړیتوب لاس په سر شو او تایوان چې کله له چین څخه جلا شو، له دې صندوق یې هم غړیتوب ختم شو.

**د پیسو نړیوال صندوق څخه پور اخیستل په څه مانا دي؟**

عموما دوه نړیوالې اداري شتون لري چې هیوادونو ته پورونه ورکوي، لومړی یې نړیوال بانک یا World Bank دی چې هغه هیوادونو ته پورونه ورکوي چې اقتصاد یې نسبتاً ښه وي او پر مخ ودې اقتصاد ولري، دویم د پیسو نړیوال صندوق دی چې هیوادونو ته پورونه ورکوي.

تاسې که وروستیو کې لیدلي وي، نو ویل کیږي، چې پاکستان د پیسو نړیوال صندوق یا IMF څخه په وروستیو کې اته مېلیارده ډالر پور واخیست.

د پیسو نړیوال صندوق څخه پور اخیستنه څلور ډولونه لري، یو یې Flexible Credit Line-FCLده، یانې دا هغه ډول هیوادونو ته ورکول کیږي چې پوهېږي هیواد یې په ستونزه کې ایساریږي، نو د احتیاط لپاره له ستونزو څخه وار دمخه پور اخلي.

بل Precautionary Lending Line-PLLدی، دا پورونه د هغه هیوادونو لپاره دي چې تازه له اقتصادي ستونزو سره مخشوي‌وي او غواړو چې له ستونزې څخه ووځي، نو دا ډول پور اخلي.ځینې داسې هیوادونه وي چې اقتصادي ستونزو ځپلي وي، خو عادي قرضه کو له شئ چې خپل اقتصاد بېرته په پښو ودرې، نو هغه بیا د پیسو نړیوال صندوق څخه د SBA یا Standby Agreement پور ته وړاندیز ورکوي، خو تر ټولو بدتر ډول یې بیا هغه دی چې ته په پورونو کې ډوب یې او د اقتصادي ستونزو د حل په موخه نور قرض اخلې، نو دې‌ته بیا د Extended Fund Facility–EFF سلسله ده، په کوم چې پاکستان اوس قرار لري، او د دې اخر ډول بده اغېزه بیا دا وي چې پانګوال په داسې حالت کې سرمایه‌ګذارۍ ته زړه نه‌ښه کوي، د هیواد اقتصادي وده ورسره ورځ تر بلې کمزورې کېږي، د توکو نرخونه لوړیږي، په اجناسو مالیه لوړیږي، د هیواد پیسه ورسره درګرده خپل ارزښت له‌لاسه ورکوي او انفلاسیون ورځ تر بلې مخ په لوړه ځي.

**د پیسو پر نړیوال صندوق نیوکې څه دي؟**

لومړی: د پیسو پر نړیوال صندوق یو تور دا دی، چې د پور ورکولو له‌پاره یې شرایط دومره سخت کړي‌دي چې حکومتونه د پوراخیستنې وروسته د دوی هر فرمایش مني.

دوییم: ځینې اقتصادپوهان په‌دې نظر دي چې د دا ډول مالي ادارو پورونه لکه د مالي ټروریزم وسله، چې څنګه وغواړي هماغه ډول یې کاروي او چې څنګه لازمه وي، چې یو وږی انسان دې پرې په خبټه موړ شي، نه مړیږي.

دریم: د ځینو په وینا د پیسو نړیوال صندوق د امریکا د خزانې وزارت ته دا واک ورکوي چې حتا د پرمخ تللیو هیوادونو په مالي چارو کې لاس‌وهنه وکړي.●

سرچینې:

WHAT IS THE IMF?WHAT DOES THE IMF DO?

https://www.imf.org/en/About/Factsheets/IMF-at-a-Glance

An Introduction to the International Monetary Fund (IMF)/By REEM HEAKAL Updated July 26, 2021Reviewed by MICHAEL J BOYLE/ Fact checked by MICHAEL LOGAN

https://www.investopedia.com/articles/03/030703.asp

# اطلاعیه د افغانستان بانک!

**هموطنان عزیز:**

**بــه تعقــیب اطلاعیه های قبــلی د افغانستان بانک در قبال بانکنوتهای مندرس افغانی یک بار دیگر به سمع تان رسانیده میشود که با در نظرداشت شرایط فعلی صرفاً بانکنوتهای که دارای خصوصیات ذیل باشند، بانکنوتهای مندرس محســوب می شوند:**

**۱– بانکنوتهای که شکل ظاهری آن کاملاً تغییر کرده باشد.**

**۲– بانکنوتهای افغانی که در اثر حوادث غیر مترقبه یک بــخش آن از بــین رفته و یا ظاهر آنها تغییر کرده باشــد، ولی اصلیت آن قابل شناسایی بوده و در بازارها قابل چلند نباشند و بیشتر از شــصت فیصد آن بــه شــمول واترمارک و هر دو امضای آن موجود باشد.**

## نمونه های بانکنوت های مندرس

**بانکنوتهای که شکل ظاهری آن کاملاً تغییر کرده باشد.**







**بانکنوتهای افغانی که در اثر حوادث غیر مترقبه یک بخش آن از بین رفته و یا ظاهر آنها تغییر کرده باشد،**







**سایربانکنوتهای افغانی که از مشخصات فوق برخوردار نباشند در بین بانکنوتهای سالم محسوب می شوند و در معاملات پولی قابل استفاده می باشند.**



# بانک

ماهنامۀ د افغانستان بانک

سال شانزدهم شماره ۱۸۰ ذوالحجه ۱۴۴۳ ( سرطان ۱۴۰۱)




## گرانو هیوادوالو!

**افغانۍ د هیواد یوازینی پولي واحد دی او زمونږ ملي دنده ده څو په خپلو ورځنیو راکړو او ورکړو او پولي معاملو کې له هغې څخه کار واخلو.**